مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست

۲۰۲۶/۰۶/۲۲

# د ثواب لهپاره د ښوونځي سوځول

موږ په همدې رکشاء کې وو. مشر ورور مې راسره و او د هغه څنګ ته یو بل سپین ږیری ناست و.
ما د خپل وطن له زړه وړونکیو منظرو خوند اخیسته او هم مې د دې کمبخته هیواد په ګڼو ناخوالو فکر واهه .
خبره د ماضي پر ناامنیو روانه شوه او بیا ماضي بعید ته ورسیده.

ورور مې د الینګار ولسوالۍ د شیخ محمد حسین لیسې زدکوونکی و. دا زموږ د سیمې په کچه بېساري لیسه وه.
جالبه دا چې د ورور څنګ ته ناست نا اشنا مشر هم د همدې لیسې زدکوونکی پاتې شوی و او بیخي دواړه همدوره ول.

ماته مې ورور د خپلې لیسې د سوزیدو نکل کړی و. نکل؛ لکه له همدې لیسې څخه د را پورته کېدونکي اور لوګي غونډې تریخ و او له سترګو ورته اوښکې څڅیدې. ورور مې نهم ټولګي کې و چې لیسه یې د ثواب په نیت وسوزول شوه چې بې شماره هغه مقدس متون هم پکې وسوزیدل چې قرائت یې ثواب درلود.

رکشاء کې ناست سپین ږیري، همدا نکل را واخیست:

هغه صحنه مې هیڅ نه هېرېږي؛ د ۱۳۵۸ کال جدي وه. زموږ خلور نیم میاشتنی ازمویني وې. په هغه سهار چې له پوره چمتوالي سره راغلم؛ له لیسې لمبې پورته کېدې. تورو لوګیو په غېږ کې نیولې وه. یوه شیبه ورته ولاړ وم. زړه مې راډک شو او بیرته کور ته را وخوځیدم. بیا زموږ څو ښوونکي هم قتل شول .

دا زموږ د وطن په معارف ګوزار و، داسي ګوزار چې ښه شدیده ضربه یې ورکړه. داسي یې ولړزاوه چې بیا هیڅ خپل ځای ته رانغلو.

وګورئ: د همدې لیسې د نهم ټولګیو فارغان دومره رسیدلي ول چې آن دندې یې هم اجرا کولای شوې؛ خو بیا....
مشرهمداسې ناخوالي بیانولي. زما زړه راډک شو، سترګې مې ډنډ شوې او بیا مې تر ډېره غیر ارادي دغه بیت زمزمه کاوه:

**"ډېرو ناکردو ته یې سینه ونیوه**
**ما د خپلې خاورې بې وسې وژنې"**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ